



# Orientation to Ontario

1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o

## تر ثانوي وروسته زده‌کړې

### کالجونه او پوهنتونونه

کالجونه حرفوي یا په مسلک متمرکز پروګرامونه وړاندې کوي، چې د ټیکنالوژۍ ، روغتیا ، سوداګرۍ ، میلمه‌پالنې، ګرځندوی او نورو مسلکونو کې دندو لامل کیږي. د تصدیق سند لرونکي برنامې معمولاً یو کالنې زده‌کړې وي. ډیپلومالرونکي پروګرامونه په دوو یا درېیو کالو کې بشپړیږي. د اونټاریو کالجونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره ontariocolleges.ca وګورئ.

پوهنتونونه په هنرونو او علومو کې د لېسانس، ماسټرۍ او دوکتورا پّه کچه اکاډمیکې برنامې او همدارنګه په ښوونه او روزنه، طب، د غاښونو طب، قانون او انجینرۍ په مسلکي برخو کې پروګرامونه وړاندې کوي.

د اونټاریو د پوهنتونونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره ouac.on.ca کې د اونټاریو پوهنتونونو د غوښتنلیک مرکز ته لاړ شئ.

### داخله

عموماً په کالج یا پوهنتون کې د داخلې لپاره د لېسې یا ثانوي زده‌کړو ډیپلوما یا تصدیق‌پاڼې ته اړتیا ده. که تاسو د لیسې څخه فارغ شوي نه یاست، تاسو کولی شئ د خپلې تجربې پراساس د بالغ زده کونکي په توګه غوښتنه وکړئ. بالغ زده کونکي باید 19 کلن یا له دې ډېر عمر ولري او د کاناډا تبعه یا دایمي استوګن وي.

په پوهنتونونو کې د داخلې په موخه د اړینو نیټو په اړه د معلوماتو له‌پاره د اونټاریو پوهنتونونو د غوښتنلیک مرکز ته لاړ شئ ontario.ca یا findlink.at/OnUniversities

په اونټاریو کې ډېرى ښوونځي د لویانو لپاره د عالي لیسې ډیپلوما برنامې وړاندیز کوي. د نورو معلوماتو لپاره د خپل محلي ښوونځي د بورډ ویب‌پاڼه وګورئ.

دا هم امکان لري چې د عالي لیسې ډیپلوم انلاین بشپړ کړئ. د زده کړې خپلواک مرکز ته مراجعه وکړئ. ilc.org

تاسو ممکن د هغه کورسونو له‌پاره کریډیټ ترلاسه کړئ چې تاسو په بهرني کالج یا پوهنتون کې بشپړ کړي دي. هره اداره د ارزونې خپله پروسه لري.

د اونټاریو د کالجونو او پوهنتونونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د روزنې ، کالجونو او پوهنتونونو وزارت ته مراجعه وکړئ: ontario.ca یا findlink.at/findschool

د فرانسوي ژبې کالجونو او پوهنتونونو په اړه د معلوماتو لپاره، د روزنې ، کالجونو او پوهنتونونو وزارت ته مراجعه وکړئ ontario.ca یا findlink.at/Frenschool

### مالي مرسته

د اونټاریو په کالجونو او پوهنتونونو کې زده کوونکي ممکن د اونټاریو د زده کونکو د مرستې پروګرام (OSAP) څخه د مالي مرستې له‌پاره وړ وي. د نورو معلوماتو له‌پار، osap.gov.on.ca وګورئ.

فدرالي حکومت هم د کاناډا د زده کوونکو پورونو برنامې له لارې ځینې فنډونه چمتو کوي: canlearn.ca

### حرفوي زده‌کړې یا مسلکي روزنه

یو زده کوونکی د کار پرمهال د تجربه لرونکو کارکوونکو تر لارښوونې لاندې په یو مسلک زده

Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada



کوي. د یوه مسلک د زده‌کوونکي په توګه، تاسو یو کارکوونکی ګڼل کیږئ او معاش ترلاسه کوئ. د حرفوي زده‌کړو له لارې له ۱۵۰ په زیاتو مسلکی برخو کې زده‌کړه کولی شئ.

د حرفوي یا مسلکي زده‌کړو په اړه نور معلومات په ontario.ca یا findlink.at/trades کتلی شئ.

په oyap.com کې د عالي ښوونځي زده کوونکو لپاره د اونټاریو د حرفوي او مسلکي زده‌کړو د پروګرام په اړه ولولئ.

**ایا پوهیږئ؟**

**په اونټاریو کې شخصي مسلکي کالجونه د عامه یا دولتي کالجونو په څېر نه دي تنظیم شوي او لوړ فیس اخلي.**

**دا مهمه ده چې ټول انتخابونه (افشنونه) په دقت سره وڅېړئ.**

